Ministry of Housing,
Communities &
Local Government

# د افغانانو لپاره د ځای پر ځای کولو طرحې د ۲ پړاو: د افغان کورنیو لپاره د محرمیت خبرتیا

## ستاسو د شخصي اطلاعاتو څخه زموږ د کارولو په اړه معلومات

د خصوصي محرمیت د دې خبرتیا موخه دا ده چې د دې خبرې توضیح کول دي، چې ستاسو شخصي اطلاعات به څنګه د افغانانو لپاره د ځای پر ځای کولو د ۲ پړاو د طرحې د اجراکولو لپاره د برتانیا (UK) د کورونو، ځای پر ځای کولو او سیمه ییزو حکومتولۍ د چارو وزارت (MHCLG) لخوا وکارول شي.

## موږ څوک یو او څه کوو

MHCLG د برتانیا (UK) یوه دولتي اداره ده چې په انګلستان کې د کورونو، ځای پر ځای کولو یووالي او سیمه ییز حکومتولۍ مسئولیت پر غاړه لري. د برتانیا او شمالي آیرلند (UK) د اطلاعاتو د ساتنې د عمومي مقرراتو (GDPR) د رعایتولو لپاره، موږ ستاسو د خصوصي اطلاعاتو لپاره 'د اطلاعاتو د کنترولوونکي' په توګه تعریف شوي یو، دا پدې معنی ده چې موږ د دې طرحې د اداره دمعلوماتو کارول ټولیز مسئولیت په غاړه لرو.

موږ د برتانیا او شمالي آیرلند د متحدې پاچاهۍ (UK) د کورنیو چارو له وزارت سره د دې طرحې د یو لړ برخو د اجرا کولو لپاره همکاري کوو، خو دا خبرتیا یوازې ستاسو د شخصي اطلاعاتو څخه زموږ کارونه تشریح کوي. هر هغه فعالیتونه چې ستاسو د شخصي اطلاعاتو سره تړاو لري او د UK د کورنیو چارو د وزارت لخوا ترسره کیږي، د خصوصي محرمیت په هغه خبرتیا کې به تشریح کړای شي چې ستاسو په اختیار کې کښېښودل کیږي.

## موږ ولې باید شخصي اطلاعات وکاروو

موږ ته پکار ده چې ستاسو شخصي اطلاعات وکاروو، ترڅو ستاسو سره د برتانیا (UK) کې په مېشتېدو کې مرسته وکړو او ډاډ ترلاسه کړو چې د دې طرحې له لارې تاسو ته د استوګنې چمتو شوي ترتیبات مناسب وي، او هم دا چې داسې مناسب ملاتړ شتون ولري، ترڅو په ټولنې کې ستاسو له مدغم کېدلو سره مرسته وکړي.

**هغه شخصي اطلاعات چې یې موږ کارولو ته اړتیا لرو**

موږ ته پکار ده چې د دې طرحې د موخې لپاره ستاسو لاندیني تفصیلات وکاروو:

- بشپړ نوم
- د زیږېدنې نېټه
- جندر یا جنسیت
- ملیت
- د پاسپورټ شمېره
- د اړیکې نیولو جزئیات، یعنی: د تلیفون شمیره

**د ځانګړې کټګورۍ شخصي اطلاعات**

په ځینو خاصو حالاتو کې، موږ ته به پکار وي چې ستاسو په اړه طبي یا روغتیایي معلومات راټول کړو. د برتانیا (UK) د اطلاعاتو د ساتنې د قانون په اساس دا د 'ځانګړې کټګورۍ شخصي اطلاعات' ګڼل کیږي، پدې معنی چې د شخصي معلوماتو په پرتله دغه اطلاعات زیات سخت محافظتونه لري.

موږ ته ستاسو په هکله دا معلومات ځکه پکار دي، ترڅو ستاسو په اړتیاوو ښه پوه شو او ډاډ ترلاسه کړو او ډاډ ترلاسه کړو چې تاسو د یو مناسب ملکیت سره سمون لرئ.

**موږ ستاسو شخصي اطلاعات له کوم ځای څخه ترلاسه کوو**

موږ ستاسو په اړه معلومات د برتانیا (UK) د کورنیو چارو له وزارت او اړونده سیمه ییزې ادارې څخه ترلاسه کوو، چې ستاسو د شرایطو سره مناسب استوګنځی پکې موقعیت لري.

**موږ ستاسو شخصي اطلاعات د څه لپاره کاروو؟**

موږ ستاسو شخصي اطلاعات او د ځانګړې کټګورۍ اطلاعات د لاندینیو موخو لپاره کاروو:

- که موږ اړتیا ولرو چې له تاسو سره اړیکه ونیسو
- تر څو ستاسو لپاره یو مناسب کور او د دې طرحې تمویل کوونکي یا سپانسره ډله غوره کړو

- ترڅو ستاسو مناسب استوګنځي ته ستاسو د سفر برابرې کړو؛ او
- تر څو ډاډ ترلاسه کړو چې تاسو هغه ملاتړ ترلاسه کوئ چې اړتیا ورته لرئ

**ستاسو د شخصي اطلاعاتو د کارولو لپاره زموږ قانوني اساس**

موږ موظف یو تاسو ته ووایو چې کوم قانوني اساس موږ ته اجازه راکوي چې ستاسو شخصي اطلاعات او د ځانګړې کټګورۍ اطلاعات راټول کړو او و یې کاروو.

زموږ لخوا ستاسو د شخصي اطلاعاتو کارول د هغې وظیفې د ترسره کولو لپاره اړین دي، چې موخه یې د عامه ګټو خوندي کول دي (د بېلګې په توګه، د ځای پر ځای کولو د طرحې ترسره کول). دا د برتانیا(UK) د عامه اطلاعاتو د ساتنې د مقرراتو (UK GDPR) د 6 مادې د (e)(1) بند له قانوني اساس سره مطابقت کوي.

ستاسو د ځانګړې کټګورۍ اطلاعاتو د کارولو لپاره موږ باید د برتانیا او (UK) د GDPR د 9 مادې له مخې ذکر شوی اضافي قانوني اساس وپیژنو. دا دوهم قانوني اساس د برتانیا برتانیې (UK) د GDPR له مخې (د پام وړ عامه ګټو دلایلو لپاره اړین دی). دا لا نور هم د خاصې ځانګړې ګټې د شرط له مخې تاییدېږي، او د ۲۰۰۸ کال د شخصي اطلاعاتو د ساتلو د قانون د 2(b) بند د ۶ برخې د ۱ ضمیمې لخوا یې ملاتړ کېږي؛ د سلطنت لخوا د وظایفو د اجراکولو لپاره، د سلطنت د کوم مسئول کس او د برتانیا (UK) د یوې ادارې د فعالیت لپاره.

**موږ اړتیا لرو چې ستاسو شخصي اطلاعات له چا سره شریک کړو؟**

د دې لپاره چې دا طرحه اجرا کړای شي او تاسو په بریالیتوب سره بیامېشته کړای شئ، زموږ لپاره دا اړینه ده چې ستاسو شخصي اطلاعات او د ځانګړې کټګورۍ اطلاعات د یو شمېر اړوندو سازمانونو سره شریک کړو چې په دې طرحې کې ښکېل دي. دا سازمانونه عبارت دي له:

- **اصلي تمویل کوونکي یا سپانسران -** هغه سازمانونه دي چې زموږ تر لارښودنې لاندې کار کوي، ترڅو د دې طرحې له مدیریت سره مرسته وکړي. پکار به وي چې ستاسو شخصي اطلاعات ستاسو د بیامېشتېدنې له اصلي سپانسر سره شریک کړای شي چې ستاسو د بیامېشتېدو مسئولیت پر غاړه لري. اصلي تمویل کوونکي عبارت دي له: د ګلاب سرخ بنسټ، د افغان ښه راغلاست پروژه او د کډوالو شورا. د دې سازمانونو هر یو زموږ لپاره د اطلاعاتو طی مراحل کوونکی ګڼل کېږي او موږ ورسره د معلوماتو د طی مراحل کولو تړونونه لرو.
- **سپانسرې ډلې،** چې د کور تر وړاندیز وروسته ستاسو د بیامېشتېدنې د ملاتړ مسئولیت پر غاړه لري. د سپانسر دا ډلې د (پورته) ذکر شویو اصلي سپانسرانو په استازیتوب کار

کوي او ستاسو شخصي اطلاعات او د ځانګړې کټګورۍ اطلاعات د سپانسرو ډلو سره شریکېږي، ترڅو دوی ستاسو د بیامېشتېدنې ملاتړ وکړي او ډاډ ترلاسه شي چې تاسو په یوهٔ مناسب استوګنځی کې مېشت شئ.

- **د UK سیمه ییز چارواکي (LAs)** چې په دې طرحې کې برخه اخلي، خو زموږ لپاره په جلا توګه کار کوي او د 'د اطلاعاتو خپلواک کنترولوونکي' ګڼل کېږي. موږ اړتیا لرو چې ستاسو شخصي اطلاعات د LAs سره شریک کړو ترڅو دوی وکولای شي د هوساینې چکونه ترسره کړي.
- **د معلوماتي تکنالوژۍ تأمینوونکي،** چې یې په خپل استازیتوب ستاسو د شخصي او ځانګړې کټګورۍ معلوماتو ذخیره کولو لپاره کاروو

**په اتوماتیک ډول پرېکړه کول (ADM)**

ADM هغه پروسه ده، چې پکښې پرېکړه د تکنالوژیکي سیستمونو په واسطه کېږي، د بېلګې په توګه، د الګارتمونو او یا مصنوعي هوښ په کارولو سره، پرته له کومې انساني مداخلې. موږ به ستاسو د شخصي اطلاعاتو یا ځانګړې کټګورۍ اطلاعاتو په کارولو کې له ADM څخه کار وا نه خلو.

**بهر ته د معلوماتو لېږل یا ذخیره کول**

موږ به ستاسو شخصي اطلاعات یا د ځانګړې کټګورۍ اطلاعات په هغو قضایي حوزو کې نه ذخیره کوو یا یې نه ورته لېږو چې د برتانیا (UK) او اروپایي اتحادیې EU د اطلاعاتو د ساتنې معیارونه نه پوره کوي.

**هغه زماني موده چې یې موږ په ترڅ کې ستاسو د شخصي اطلاعاتو او د ځانګړې کټګورۍ اطلاعاتو د ساتلو پلان لرو**

ستاسو شخصي اطلاعات به د دې طرحې تر تړلو وروسته د دوو کلونو لپاره وساتل شي او له هغې وروسته به په خوندي ډول له مینځه یوړل شي.

**ستاسو د اطلاعاتو د ساتنې حقونه**

د برتانیا(UK) د اطلاعاتو د ساتنې د عمومي مقرراتو (GDPR) په اساس تاسو د اطلاعاتو د ساتنې خاص حقونه لرئ. د دې طرحې اړوند حقونه دا دي:

- د خپلو شخصي اطلاعاتو یوه کاپي وغواړئ او ترلاسه یې کړئ، چې موږ یې په خپل اختیار کې لرو
- زموږ څخه وغواړئ چې ناسم یا نیمګړي شخصي اطلاعات سم یا بشپړ کړو
- د خپلو شخصي اطلاعاتو د حذفولو غوښتنه وکړئ، چیرې چې یې د ساتلو لپاره قانوني توجیه شتون و نه لري

- د خپلو شخصي اطلاعاتو د طی مراحل کولو د ځنډولو غوښتنه وکړئ (د بېلګې په توګه د تایید یا اصلاح په انتظار کې)
- د معلوماتو د کمېشنر دفتر، د معلوماتو د ساتنې لپاره دUK تنظیم کوونکي ته رسمي شکایت وکړئ

**شکایتونه او نور معلومات**

- د دې طرحې په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ دا ویبپاڼه وګورئ: Communities for Afghans project: MHCLG policy update - GOV.UK

- که تاسو د هغه طریقې څخه ناراضه یاست چې موږ ستاسو شخصي اطلاعات کارولي دي، مهرباني وکړئ زموږ د ویبپاڼې له لارې دلته خپل شکایت مطرح کړئ: https://www.gov.uk/government/organisations/ministry-of-housing-communities-local-government/about/complaints-procedure

- که تاسو لا اوس هم د خپلو شخصي اطلاعاتو د کارولو په اړه اندېښنې لرئ، مهرباني وکړئ زموږ د اطلاعاتو د ساتنې له افسر سره د دې برېښنالیک له لارې تماس ونیسئ: dpo@communities.gov.uk

- که تاسو د خپلو اطلاعاتو د خوندیتوب په اړه شکایت ته د رسېدنې په اړه زموږ د چلند څخه ناراضه یاست، تاسو حق لرئ چې خپلې اندېښنې د معلوماتو له کمېشنر سره په دې پته مطرح کړئ: https://ico.org.uk/make-a-complaint/data-protection-complaints/ او یا پدې شمېرې ورسره اړیکه ټینګه کړئ 0303 123 1113.